مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۳/۰۶/۱۵

# د مور ورځ

کابل کې د واک نیونې لپاره تنظیمي انډوخر په ټول زور روان و. راکټونو د لیونیو سپیو په څیر په خلکو او کورونو خولې لګولې. کابل ښاریانې لکه د سوځېدلي برج کوترې، په الوتلو وې.

پوهنتون مو جلوزو کیمپ کې و. له رخصتۍ وروسته ور روان وم. په هغه ورځ تورخم بند و. مورې د خپل وطن جلا شوي برخې ته د ورتګ په هیله منتظر وو. هوا سړه وه. ماښام باران شروع شو او ساړه لا پسې زیات شول. هغه مهال مزي ته نږدې د سړک تر غاړې یوه انتظارخونه وه، چې درې دیوالونه او چت یې درلوده. مخه یې همداسې پرانیستې وه .همدلته ډیر زیات کسان له بارانه د پټیدو په موخه راټول شوو. د پښو غځولو ځای نه و. له معمولي باد سره به څاڅکي، لکه شوخ ماشومان په خپل سر راننوتل او زمونږ هډونه به یې وتخنول. له مزي اخوا سیمه څراغان وه او خلک بې غمه ودانیو کې ناست ول. زړه مې راډک شو. ناهیلي زور شوه، دومره زور چې احتجاجا بیرون باران ته راووتلم، لکه ځان ته چې سزا ور کوم. باران لاندې مې میده میده قدم واهه او په خپلو چورتونو کې غرق وم.

لږ وړاندې پر سپین میدان دوه غټ تور بیکونه ایښي ول. تر شا یې یوه حسینه ښاپیرۍ ناسته وه چې په کابل د مسلطو دیوانو له ویرې راتښتیدلې وه او له مزي اخوا اوښتلو ته په تمه وه.
باران، دا میرمن لکه بې ځالې توتکۍ لمده خیشته کړې وه. د هغې په غیږ کې یوه ښایستوکې کوچنۍ ویده وه. دې پرې د خپل تور ټکري پلو خور کړی و. څاڅکی به لکه تنظیمي راکټ چې د ودانیو له دیوالونو اخوا وتلو، له پلو ووت، د بې خوبه ماشومې په مخ به ولګیده او هغې به خوب کې ټکان وخوړ.

دې حالت لکه کابل په زړه زخمي زخمي کړم. ښه ډیر مې وژړل. باران دې خیر یووسي، د اوښکو پرده پوښ شو.

هغه شپه تر ډیره باران وریده. چې وقفه راغله مورې په یوه قاچاقي او غرنۍ لاره روان شوو او هغه مور له خپلې ماشومې سره همغسې پر سپین میدان پاتې شوه.

ملګرو!

چې کله هم باران شي، هماغه ترهیدلې، مایوسه او پر سپین میدان باران ته پاتې مورکۍ را یاده شي.

افغاني میندو!

تاسو ته دوه لاسي سلام او ورځ مو مبارک. څه ماډل ماډل کړاوونه مو تجربه کړل.
رب مو نور له هر ډول آفته په امان لره.

مور ورځ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ